27) بريالی، عبدالکریم، تکتو، پښتو څانګه، بلوچستان یونیورسټي کوټه، جولائي دسمبر 2010، مخ 12

28) تابان، لیاقت ډاکټر، سهیلي پښتونخوا پښتو رسنۍ، ملګري لیکوال کوټه، 2008

29) همدا اثر مخ 35

# دراوۍ: یوه تحلیلي څېړنه

## A STUDY OF DRAWAI

Sadiq Zarak*

**Abstract**:

*The author of this paper has critically analysed the historical background, moral values and limitations of a traditional meeting of the lovers known as Drawai. Author is of the view that it is limited to kakar's inhabited in the eastern parts of southern pashtoonkhwa. The author therefore, opted kakari ghari which is the only poetic source.*

*Author attempts to present the liberal and loving aspect of pashtoon society to the world.*

* Assistant Prof. Govt. Degree College Sariab Road Quetta

**Key Words:** Drawai, Romance, Pashtoon Culture, Pashto Folklore

دراوۍ د پښتو ژبې قبیلوي اصطلاح ده چې په کاکړۍ لهجه کښې په دوو (۲) معناوو کارېږي یا استعمالېږي.

لومړی:

کله چې د دوو (۲) کورنیو ترمینځ د واده نېټه وټاکل شي نو وئیل کیږي چې دراوۍ مو وکړه یعني د واده د نېټې ټاکلو ته دراوۍ وئیل کیږي.

دویم:

د دوو (۲) مئینو ترمینځ یو ټاکلی ځای چې دوه مئین پر هغه ځای راغونډیږي او خپله دراوۍ سره کوي(۱).

دراوۍ د کاکړو په سیمه یعني کاکړستان کې یو ډېر لرغونی دود او ځانګړی دود دی. دراوۍ نه یوازې د کاکړو د سیمې د اوسېدونکو د ټولنیز ژوند یو ډېر مهم اړخ زموږ په وړاندې روښانوي بلکې د دې دود په څېړلو سره به د پښتنو یو داسې تصویر هم نړېوالو ته وړاندې شي چې زموږ دغه ګېر چاپېره نړۍ به زموږ دغه تصویر کله هم لیدلی نه دی، دا د جمالیاتو تصویر دی، د رومانس تصویر دی، د مینې، ښایست او ټولنیزې سپېڅلتیا تصویر دی.

دراوۍ د دوو مئینو دملاقات عمل د ځای نوم دی. د شپې دوه مئین پر یوه ټاکلې وخت او ځای چې به له یوه او بل سره یو ځای کېدل، دا عمل او ځای به یې دراوۍ بلله، د دې دوو ټولنیز ارزښت او د مینې د شدت ذکر په پښتو فولکلور په ځانګړې توګه په کاکړۍ غاړو کښې ډېر تر سترګو کېږي چې پر مخ به یې ذکر وشي.

دراوۍ ته وچ مجلس هم وئیل کېږي دا په دې چې د ځینو خلکو دا خیال دی چې دراوۍ له جنسي خواهشاتو پاک او سپېڅلې مینې یو روایت دی. دا نظر ښایي تر یوې اندازې مسلم هم وي خو د داسې څه ټاکلي اصولو په باب څه ثبوت او سند په لاس کښې نه لرو چې که دوه مئین له یوه او بل سره دراوۍ کوي نو جنسي اړیکښې به له یوه او بل سره نه

ساتي یا د جنسي اړیکو په ساتلو سره دراوۍ، دراوۍ نه پاته کېږي. البته دا وئیل کېدلای شي چې په کومه قبائیلي ټولنه کښې د دې دود وجود لرلی، د قبائیلي کلتور د ټولنیزو اخلاقیاتو او غېر مفاداتي رویې پر اساس به دا ضرور کېدل چې په دراوۍ کښې به جنسي اړیکو ته لومړیتوب حاصل نه وو، بلکې لومړیتوب به میني ته ورکول کېده؛دلته به موږ هڅه کوو چې په پښتو فولکلور کښې د دراوۍ دوو مختلف تصویرونه او تشریحات وګورو.

دلته دا خبره هم څرګندول ضروري ده چې دراوۍ به د تاریخ په اوږدو کښې ښایي په درسته پښتونخوا کښې دود وه یا به یې نوم بل څه وي، په کاکړستان کښې دغه دود ژوندی دی.(۲)

ځکه چې موږ په لږ توپیر سره د پښتونخوا په نورو سیمو کښې وینو چې د بلۍ په څېر دود هم ژوندی دی او له دې پرته د ګودر په شا و خوا کښې د دوو مئینو ملاقاتونه تراوسه پوري رواج لري او یا ښایي د پښتونخوا په نورو سیمو کښې په لږ توپیر سره په نورو نومونو دغه دود ژوندی دی چې یوې ژورې پلټنې ته اړتیا لري.

اوس به دلته د کاکړیو غاړو څو بېلګي وړاندي کړم چې د دراوۍ انځور په ښه توګه روښانوي:

"زه ورالم ناست وی ګران ادې جنت وی د جار میان"(۳)

اوس چې موږ دې کاکړۍ غاړي ته لږ ځیر شو نو یوه مئینه چې خپل محبوب پر دراوۍ ویني نو پر مور دِغ کوي او حال ورکوي او دغه ځای چې د دې محبوب ورباندي ناست دی له جنته سره تشبیه کوي. د دې نجلۍ لپاره ربښتیا هم دغه ځای دا وخت جنت کېدلای شي.

"سپوږمۍ پرېوته تیاره ده خولګۍ زر راوړه موقع ده"(۴)

په پورتنۍ کاکړۍ غاړه کښې جنسي تنده له ورایه ښکاري، ځکه چې دغه مئین په دې تمه ناست دی چې څنګه سپوږمۍ پناه شي بیا به خپله محبوبه ښکلوم.

"پر دراوۍ یې نسته پلونه کښېستم خواره څلګونه

یا

یو باکس بنډل بېړۍ دا مه خالي کې پر دراوۍ"(۵)

په لومړۍ کاکړۍ غاړه کښې هغه حالت بیان شوی دی چې یوه نجلۍ چې دراوۍ ته راغلې ده، د دې محبوب لیا نه دی راغلی او دا د محبوب د راتلو په تمه انتظار باسي او په دوېمه کاکړۍ غاړه کښې بیا چې کله یو ځوان دراوۍ ته راغلی دی او مئینه یې نه ده راغلې نو دغه ځوان وایي چې ما بشپړ یو بنډل بېړۍ او یو باکس یعني ماچس پر دراوۍ تش کړل، یعني دومره اوږد انتظار یې اېستلی دی دومره انتظار یوازي دمیني د انتها په صورت کښې کېدلای شي.

سوال: "زما پر سر دي ټیکري دوه در خور چکن کم که ساده؟"(۶)

ځواب: "ستا پر سر دي ټیکري دوه خور که چکن پرېږده ساده"(۷)

پورتنۍ دوې کاکړۍ غاړې د دراوۍ مکالمه ده چې یوه نجلۍ خپل محبوب ته وایي چې ساده څادر درخور کړم که د چکن څادر، او دغه محبوب ورته په ځواب کښې په ډېر جرات سره وایي چې چکن څادر خور که ساده پرېږده.

وئیل کیږي چې کله به یوه نجلۍ دراوۍ له تله د هغې به عموماً دوه پړونې (څادرونو) پر سرکول ځکه چې پر دراوۍ به یې یو د ناستي له پاره ویړاوه (خوراوه) او یو به یې پر سر وو. له دې پرته یو شمېر کاکړۍ غاړې په لاس کښې لرو چې د دراوۍ په باب ښه تشریحات په کښې وړاندي شوي دي، دلته یې څو نمونې راوړم چې سکالو (موضوع) ښه سپینه شي.

"پر دراوۍ رالم د سرې د چرسو پروتي وې ټوټې
زما و ستا دراوۍ ښکاره ده شنه برهړ نرۍ شپېله ده
ګرانه زما و ستا دراوۍ باندي شنې سوګې دي ماخۍ
پر دراوۍ یې نوندکي ګران څوښۍ رالې د باران
بې وفا سوه شین خالۍ نخښې یې نسته پر دراوۍ
پر دراوۍ سایه د سخر ده که د بوري د چارګل ده
لمر خپه دی سپوږمۍ نسته پر دراوۍ لونو نسته

ده نجلۍ بیا هم شرمږي پر دراوۍ لنګي ښورږي
پر دراوۍ يې بل کی اور يوار يې لور راسي بیا مور
مور يې ده تر لور شوقي دراوۍ له غبرګي وراځي
اوس به څنګه کم چورۍ پريان يې نيسي پر دراوۍ"(۸)

له دې پرته د اتڼ په غاړو کښې د دراوۍ او دراوۍ عمل ذکر شوی دی چې دلته به يې څو بېلګې راوړم:

"ګړده وړده کږې مځکه ختړه ده چورۍ وبه ښکرې
کالي به د ناوده سي پر يار ګرانه يې دراوۍ ته به سړه سې
تر بم سي وختونه وبر بم نسي د ځوانۍ خوسي
کارونه
ورخور ځي بم ټيکری کئ تر سر ځي بم ورلاندي کړل لاسونه
دغه پېر منګي داده سپوږمۍ ورته ولياړه وار خطا ده
ته ما ولالي جار کې په نيمه شپه يې څه وړه خندا ده"(۹)

د دراوۍ په باب په پښتو فولکلور کښې خورا زيات معلومات ليدل کېږي چې زما په اند بشپړ کتاب پرې ليکل کېدلای شي. د دراوۍ نوم اوس په لر او بر کښې خور شوی دی. ومان نيازي د پښتو ژبي خوږ ژبی شاعر دی او تکړه انځورګر دی، هغه د خپلي شعري مجموعې نوم "دراوۍ" ايښی دی. په دې باب ومان نيازی کاږي:

"دراوۍ مي د نويو او پخوانيو شعرونو ټولګه شوه، دراوۍ هغه ځای ته وايي چې دوه مئينان له نورو پناه پکښې درېږي، د زړه خواله کوي".(۱۰)

لنډه دا چې دراوۍ د پښتنو يو لرغونی دود دی، چې تراوسه پوري په کاکړستان کښې ژوندی دی. له دې دوو څخه دا جوتيږي چې پښتانه له ژوند سره مينه کوي، پښتانه ژوند خوښوونکي خلګ دي، امن دوست خلګ دي، تر هر څه ژوند او ميني ته ارزښت ورکوي، همدغه دراوۍ ډول دودونه په لر او برو پښتنو کښې تراوسه پوري ژوندي دي چې نړېواله ته دا جوتوي چې پښتانه يوازي او يوازي پر ژوند او مينه باور لرونکي

خلک دي. دا سکالو بشپړ کتاب ته اړتیا لري که ژوند وفا وکړه زه به پر دې سکالو باندې تر یوې اندازې او تر خپله وسه پوره بشپړ کار کوم.

**شنني**:

| نه بر | گران توری | تشریح | نه بر | گران توری | تشریح |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | بې | د به یې لنډیز | 17 | نوند | لوند |
| 2 | لونو | لېونو | 18 | ځونې | چې باران او دوړې په یو ځل راشي د باران په شروع کېدو دغه عمل وي. |
| 3 | زاړي | ژاړي | 19 | سخر | یو ډول ډبره، کاڼی اوړده ډبره، اوږد کاڼی |
| 4 | رالم | راغلم | 20 | بوره | د ناز نوم |
| 5 | وی | وو | 21 | شرمږي | شرمیږي |
| 6 | جار | د ډبرو دېوال چې راچاپېره شي، دغه ته جار وئیل کېږي. | 22 | راسي | راشي |
| 7 | میان | مینځ | 23 | چورې | نجلۍ، جینۍ |
| 8 | مه | مي | 24 | پریان | پېریان |
| 9 | کې | کړې | 25 | کږي | کیږي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 10 | کې | د که يې لنډيز | 26 | شکړي | شکېړي |
| 11 | تېکری | پړونی، ښځينه څادر | 27 | سي | شي |
| 12 | تېکري | پړوني (جمع) | 28 | بم | د به مي لنډيز |
| 13 | چکن | د يو ډول کپړې نوم | 29 | خوسي | خوشي |
| 14 | خور | ويړ، اوار | 30 | نم | نهم |
| 15 | برهږ | يو ډول شين بوټی | 31 | پېرمنګي | پېرمنې، ثريا |
| 16 | سوګي | شوې په کاکړۍ لهجه کښې په ځينو ځايونو کښې ش په س اوړي. | 32 | ماخۍ | يو ډول ځنګلي بوټی چې نري نري لرګي هم کوي او د خشاک له پاره استعماليږي. |

## حوالې


1. ژړک، محمد صادق، "کاکړۍ غاړې"، ۹۲ مخ، پښتو ادبي غورځنګ، ۲۰۱۰م کال، کوټه
2. همدغه کتاب، ۹۲ مخ

3. همدغه کتاب، ۹۸ مخ.
4. همدغه کتاب، ۹۸ مخ.
5. همدغه کتاب، ۹۸ مخ.
6. همدغه کتاب، ۳۱۷ مخ.
7. همدغه کتاب، ۳۴۲ مخ.
8. همدغه کتاب، ۹۷-۹۸ مخونه
9. ژړک، محمد صادق، "د اتڼ غاړې"، ناچاپ اثر، قلمي نسخه.
10. ومان نیازی، "دراوی"، ۱ مخ، د مېدان وردګ ولایت مقام، چاپ ۱۳۹۱کال.